**مطبوعاتي اعلامیه**

# ماته شوې امریکا باید دې ته پرېښنبودل شي چې په سیمه کې خپل نظامي حضور پراخ کړي!

د رسنیو د رپوټونو له مخې امریکايي ځواکونه هوډ لري ترڅو له افغانستان څخه له وتلو وروسته ډېورنډ کرښې ته نژدې ځای پر ځای شي. دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې اسوشیتدپرس خبري آژانس د امریکايي ځواکونو د مرکزي قوماندان جنرال فرانک مکنزي له قوله راپور ورکړی و چې امریکا له افغانستان څخه له وتلو وروسته د افغانستان د کنترول لپاره په منځنۍ آسیا کې د نظامي اډو او یا هم نظامي پروازونو د اجازې موندلو په لټه کې ده.

د امریکايي ځواکونو د وتلو بنسټیز لامل هغه شرمېدونکې ماتې ده چې امریکا له «تروریزم» سره د جګړې تر سرلیک لاندې په افغانستان کې خوړلې ده. امریکا د دغه ماتې د ناوړه او ناورین پنځوونکو پایلو د مخنیوي لپاره په ډېرې ځیرکۍ سره د سولې د خبرو اترو تر نامه لاندې د دوحې تړون لاسلیک کړ، ترڅو خپله له ذلته ډکه ماتې پټه کړي. له همدې امله امریکا هڅه کوي، ترڅو په سیمه او ګاونډیو هېوادونو کې د نظامي اډو د رامنځ ته کولو له لارې خپله فتنه پاروونکي حضور ته دوام ورکړي.

معاصر تاریخ ښیي چې تر هر نامه لاندې د یرغلګرو ښکېلاکګرو شتون، هېوادونه له ناورینونو سره مخ کوي او د جګړې اور، نفاق او فساد را پاروي. لکه څنګه چې امریکا د تېرو شلو کلونو په اوږدو کې بې‌ثباتي او د جګړې اور په افغانستان د خپل تاریخ ترټولو لوړې کچې ته رسولی دی. اوس په دې هڅه کې ده چې تر افغانستان اخوا سیمه بې‌ثباته کړي او د جګړې اور د منځنۍ آسیا هېوادونو او پاکستان ته د خپل نفوذ د زیاتوالي په موخه پراخ کړي. په دې منځ کې چین یو له هغو موخو څخه دی چې امریکا غواړي دغه اقتصادي دېو راچاپېر کړي او د هغه د نفوذ د پراختیا د مخنیوي او ننګولو په موخه په سیمه کې خپل حضور وساتي.

حزب التحریر د افغانستان، پاکستان او سیمې له مسلمانو خلکو غواړي، ترڅو د لاسپوڅو چارواکو د دغه خیانت مخه ونیسي او پرېښږدي چې سیمه یو ځل بیا ناوړه تحولات او بدلونه تجربه کړي. دا یې ځای دی چې د افغانستان او پاکستان مسلمان خلک له ځانه پوښتنه وکړي چې د پاکستان د لاسپوڅو چارواکو د ملاتړ او همکارۍ په پایله کې د امریکا په واسطه د افغانستان په شل کلن اشغال کې  د افغانستان او پاکستان مسلمانانو څومره ځاني تلفات او مالي زیانونه ولیدل؟ آیا غواړئ د امریکا د وحشت او جنایت دغه سریال په سیمه کې د نویو مرکزونو د رامنځ ته کولو له امله نور هم دوام ومومي؟ له همدې امله موږ د پاکستان او سیمې په پوځونو کې پر هغو عناصرو چې له الله سبحانه وتعالی، ګران پیغمبر او مسلمانانو سره اخلاص لري غږ کوو چې؛ په سیمه کې د امریکا د حضور د دوام مخه ونیسئ! د هغې پر ځای هڅه وکړئ ترڅو د امریکا نظامي، استخباراتي، سیاسي او فکري نفوذ جرړې را وباسئ او د نبوت پر منهج د هغه راشده خلافت د قایمولو لپاره مبارزه وکړئ چې الله متعال او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم یې وعده راکړې ده. په حقیقت کې د حق دین (اسلام) ملاتړ او نصرت د هغو کسانو لپاره ډېر ستر فرصت دی چې عزت ته پر خیانت ترجیح ورکوي او په دې هڅه کې دي چې په آخر زمان کې د انصارو لوړ مقام ترلاسه کړي.

**وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ** ﴿هود: ۱۱۳﴾

په هغو کسانو چې ظلم یې کړی، تکیه مه کوئ (که داسې وکړئ) د دوزخ اور مو سوځوي او (پوه شئ چې) له الله سبحانه وتعالی پرته نور ملګري او سرپرستان نه لرئ (ترڅو وکولای شي تاسو په خپله پناه کې وساتي) او په (ظالمانو باندې له تکیې وروسته د الله متعال له لوري) مو ملاتړ نه کیږي او بیا به (پر دښمنانو) بریالي نشئ!

## د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر